(c) ketabton.com: The Digital Library

ˇ اوس څو بجې دي ˇ ما پُوښتنه وکړه
پنځلس منټه بالا پنځه بجې ... ولې خبر خو دی ؟ˇ
خبر خو نه دی ، بس دا حال راکړه ، چې زما دَ Awaking Call وخت څو بجې
وو ˇ
ˇسر یَو منټ ˇ
او څو لمحې ورسته یې ژغ بیرته زما تر غوږو شو ...
ˇ اووه بجې سر ! ˇ
که څه هم دا په سر سر راته ژغېدله ، خو دلته زما دا حال ؤ ، چې ابله مې وَس نه
په رسېدو ، ګنې تر غاړې به مې نیولې وای –
ˇ ښه ، چې دَ ویښېَدلو وخت مې اووه بجې ؤ، نو دا زه دي په پنځه بجې څله
راوَژغولم ؟ ˇما پُوښتنه وکړه -
دا څه چپ غوندې شوه ... اوس به یې لا څه وئیلو، چې بیا مې وار ورباندې
وکړو ...
ˇعجبه خلک یاست ˇ
دې په ماته څُله بخښنه وَغوښتله او دَ خپلې ورانۍ دَ پاره یې دَ پښېمانۍ اظهار
هم وکړو – لاکن لا زه وم، چې مزغو مې ټکهار درلودلو ...
ˇستا په دې سورې سورې خو ، نو اوس ماته خوب نه راځي ˇ
او په خشم مې ټېلې فون بند کړو او بیرته مې سترګې پټې کړې - زیاته به دَ یوه
نا یوه سوچ په نیلي باندې سپرېدمه ، چې بیرته دَ ټېلې فون ګهنټۍ وَ
ګړنجېده ...
ˇ سر ! ستا دَ بې وخته ویښېَدلو دَ پاره زه یَو ځل بیا بخښنه غواړم ˇ
که څه هم له خشمه ورته خوَُځکېدمه ، خو په پسته ژبه مې ورته وَوئیل...
ˇځه خبر دی... بل وار خیال کوه ˇ
او بیا ....ˇ خوب نه درځي ؟ˇ دې په نرمه پُوښتنه وکړه
ˇ یَه ˇ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختته يې څه سامان هم پروت ؤ، په ما او جمعه خان باندې ژغ وکړو – مور ورته وَدرېدو او پوښتنه مې ورڅخه وکړه ...
" خير خو دی ... ولې دې راپسې ژغ وکړو ؟ "
دا خبره څه وه ، چې هغه انجلۍ په خپله ژبه کې ګډه شوه – نه زما سر دَ هغې په خبرو خلاسېدو او نه زما دَ ملګري - بس هېش هېش ورته ولاړ ؤ ، چې دا اوس څه وائي او يا څه غواړي ؟ څه وخت ورسته شاته پاته شوي پروين او نويد هم راوَرسېدو ، او تپوس يې راڅخه وکړو ...
" څه کيسه ده ؟ "
ما ورته وئيل ...
" په دې خبره خو مور هم حريان يُو ، چې دا انجلۍ څه راته وئيل غواړي ... ته پوښتنه ورڅخه وکړه "
مګر ناشُوده خبره خو دا وَشوه ، چې اوس دَ هغې انجلۍ بله خوندَکۍ چې له دوکان څخه ورته راوَ تلې وه هم ورسره ولاړه وه ... دَ نويد په خبرو هم نه پوهېدله ... چې څنګه هغه انجلۍ له خپلې خوندَکۍ سره زمور په باب په خپله ژبه کې ګډه شوه ، نو نويد په موسکا کې راته وئيلو ...
" مور څو هوټل ته ... تاسو ورسره جوړ شئ "
او خپله ناوکۍ پروين يې تر لاس وَ نيوله او مختته تېرېدلو په وخت مور ته وائي ...
" دا بلغارين پېغلې دي "
"نو زمور يې څه ... درځه جمعه چې ځو"
دومره وئيلو سم دستي چې ما ګام دَ نويد په لور اوچت کړو ، نو ملګري تر لاس وَ نيولم او راته وائي ...
" څه کوې چې ځغلې ... څُوري خو دي نه ... ورسره په ګپه کولو به ټکه نه درباندې لوېږي "

